# داميرالمؤمنين عمر رض دژوند څوعجيبه بيلګې

حفصه رضی الله تعالی عنها دده په هکله وايي : يوه ورځ تردېره په کور کي دننه و،اوخلك له کوره باهرپه انتظار ناست و . خووروسته معلومه شوه چي دمسلمانانودي ستر خليفه داغوستلو جامي نه وي نولمړی يي

هغه ووينځلې چي وچي شوي نو هغه يي په غاړه کړي اودکورڅخه راووت : سير الصحابه

**دفاروق رض تواضع**

١= دامام حسن رض بيان ده : چي يوه ورځ حضرت عمر دجمعي خطبه ويله،مادهغه دڅادر پينوندونه شمارل چي تر دولس زياتي ټوټې ورته ښودل شوي وي . سير الصحابه

٢= يوه ورځ يي دزکاه اوښان په زرنېوغوړول يوسړي ورته وويل : اميرالمؤمنين کاش! داکار دي له يوه غلام څخه اخستی وای !. د ه ورته وويل :ده ورته وويل :له مانه ښه غلام به چېري وي ،څوک چي دمسلمانانو مشرشي هغه به يي غلام اوخادم هم وي .

٣= دتواضع اوعجز حالت يې داووچې په اوږه به يي داوبومشك واخيست اودشهيدانوماشومانواوکورنيوته به يي دليري ځاګانوڅخه اوبه راوړي .

٤= کله به يي دشهيدانوکورنيوته له بازاره غوښه په شاه راوړه .چې سترې به شودمسجد په صحن کې به يې خاورينه ځمکه ډېه ووهله اودځوشيبولپاره به يې ليږدمه وکړه . سيرالصحابه.

٥= وقال عمر رضی الله تعالیعنه لونودي ليدخل الجنه کل الناس الارجلا واحد لخشيت ان اکون انا ذلك الرجل . الزواجر1 26

ژباړه : که دقيامت په ورځ يوداسي غږ وشي چي ټول خلګ به جنت ته ځي پرته له يوه ،زه ويريږم چي هغه به زه يم .

٦= وايضا قال ويل لعمر ان لم يغفر له . های افسوس که عمر ته بخښنه ونه شوه . الزواجرلاقتراف الکبائر لابي بکر الهيثمي

رضی الله تبارک وتعالی عنک یاالفاروق ویاامیرالمؤمنین  وجزاک الله تعالی عن هذه الامة خیرا .

**یوغیرمسلم عرب وایي :**

أن رجلاً فقیرا في المدینة ینام تحت شجرة و یتألم من شدة الجوع أسقط – ٦  –  امبراطوریات عظمی وجعلها تحت حکم المسلمین

ژباړه : یوفقیر سړی و  ،په مدینه کې به یې ددرختې سایې ته آرام کاوه له لوږې به کړیده ،مګر شپږ لویې امپراتورۍ یې رانسکورې کړي اودمسلمانانو لاس ته یې واچولي .

**چې خلیفه و**

ډیروخت به وږی ګرزیده :فیقول لبطنه : ‘‘قرقري أو لا تقرقري، لن تذوقي طعم اللحم حتی یشبع أطفال المسلمین’’. رضی الله عنک یاامیرالمومنین وجزی الله عنا وعن المسلمین خیرا.

دمفتي ابویاسر له الحدیقة څخه ص۲٦۲۷